دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

اوونیزه
شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

ای خلکو! تاسې ټول مې له نر او ښځې نه پیدا کړي یاست او تاسې مې خیلونه او قومونه گرځولي یې تر څو یو تر بله وپیژنئ او بې له شکه چې د الله په وړاندې ستاسې تر ټولو غوره ستاسې پرهیزگاران دي. بې له شکه چې الله په هر څه پوه او خبر دی. (الحجرات: ۱۳ آیت)

درس حدیث

عبدالله بن مسعود (رض) می گوید: نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمود: «آیا در میان شما کسی هست که مال وارثش را بیشتر از مال خود، دوست داشته باشد»؟ صحابه گفتند: همهء ما اموال خود را بیشتر دوست داریم. فرمود: «مال خود انسان، همان مالی است که در راه خدا، انفاق کرده است و آنچه را که باقی گذاشته است، مال وارث اش بشمار می رود». (صحیح البخاری)

شهادت   دریم کال، ۴۳ مه گنه، پرله پسې ۱۴۳ مه گنه   چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د سلواغې ۵ مه   د۱۴۳۳ هـ ق د ربیع الاول ۲ مه   د۲۰۱۲ م د جنوری ۲۵ مه

رهبری عملیهء صلح را در افغانستان باید خود افغان ها به عهده داشته باشد

طالبان وامریکا در مورد یک راه حل سیاسی وصلح چندین بار صحبت کرده اند، اما تا هنوز به طور رسمی طالبان اعلان نکرده

کابل، رسانه ها:
مقامات امریکایی با رها گفته اند، رهبری عملیهء صلح درافغانستان را باید خود افغانان به عهده داشته باشد و به خاطر تحکیم صلح و ثبات در این کشور جنگزده، ادارهء رییس جمهور اوباما و جامعهء جهانی آمادهء هرنوع همکاری و مساعدت می باشند.
سخنگوی وزارت خارجهء امریکا ویکتوریا نولاند با اظهار اینکه قبل از آغاز مذاکرات؛ طالبان باید خشونت ها را نکوهش کرده، علایق و روابط شان را با شبکه القاعده قطع کنند، به روز دوشنبه گفته است: "آنچه که ما به آن امیدواریم، اینست که قبل از گشایش دفتر؛ طالبان باید به قوت خشونت ها را نکوهش کرده، به وضاحت نشان دهند که آن ها صلح می خواهند".
طالبان و امریکا در مورد یک راه حل سیاسی و صلح چندین بار صحبت کرده اند، اما تا هنوز به

بقیه در صفحه ۴

عبدالستار خواصي د ولسي جرگې لومړی منشي وټاکل شو

PROPERTY OF ACKU

کابل، رسنۍ:
د ولسي جرگې د اداري پلاوي د ټاکلو په انتخاباتو کې د دې جرگې غړي په دوهمه ورځ بیا هم ونه توانېده، چې دوهم مرستیال انتخاب کړي.
د ولسي جرگې د دوهم مرستیال د چوکۍ لپاره ډاکټر جعفر مهدوي او احمد بهزاد خانونه انتخاب کړي وه، چې دواړه په دریم ځل انتخاباتو کې ونه توانېدل چې ۵۰+۱ رایې خپلې کړي.
د ولسي جرگې رئیس عبدالروف ابراهیمي د سې شنبې په ورځ د دې جرگې د اداري

پاتې ۴ مخ

جاپان برای بلند بردن ظرفیت ها در وزارت عدلیه افغانستان کمک کرد

کابل، رسانه ها:
جاپان مبلغ ۹ میلیون دالر را برای بلند بردن ظرفیت های وزارت عدلیه افغانستان کمک کرد.
این مساعدت جاپان که به هدف حمایت از تلاش های افغانستان در بخش حاکمیت قانون صورت می گیرد، و از سوی اداره مبارزه با مواد مخدر و جرایم سازمان ملل متحد در ولایت های بلخ، بامیان و هرات به اجرا گذاشته می شود.
تفاهمنامه این مساعدت به روز سه شنبه میان شارژدافیر سفارت جاپان در کابل و معاون اداره مبارزه با مواد مخدر و جرایم سازمان ملل متحد در حالی که معین وزارت عدلیه افغانستان نیز حضور داشت، به امضا رسید.
در مراسم امضای این تفاهمنامه سیجی

بقیه در صفحه ۴

د امریکا کانگرېس:
په ۲۰۱۱ کال کې ۲۲۶۲ ملکي افغانان وژل شوي

کابل، پژواک:
د امریکا کانگرېس په یوه راپور کې ویلي، چې د ۲۰۱۱ زېږدیز کال پر مهال په افغانستان کې ۲۲۶۲ ملکي وگړي وژل شوي دي.
د امریکا د کانگرېس د څېړنیزو خدمتونو د ادارې (سي. آر. اېس) له خوا په جوړ شوي دغه راپور کې راغلي، چې ۲۰۱۱ زېږدیز کال د ۲۰۱۰ زېږدیز کال په پرتله د ملکي وگړو د مرگ ژوبلې په کچه کې لږ کموالی راغلی دی.
سرچینې زیاته کړه، چې په ۲۰۱۱ زېږدیز کال په ټول افغانستان کې ۲۲۶۲ تنه عام وگړي وژل شوي، په داسې حال کې چې په ۲۰۱۰ زېږدیز کال کې دغه شمېره ۲۷۷۷ تنه وه.
په یاد راپور کې راغلي، چې په ۲۰۱۱ زېږدیز کال کې د افغان ملي اردو او ملي پولیسو د مرگ ژوبلې کچه هم ټیټه شوې وه....

پاتې ۴ مخ

آیساف تمام واقعات برخورد سربازان افغان و خارجی را بررسی می کند

کابل، رسانه ها:
نیروهای آیساف در نظردارند تا تمام واقعات مربوط به برخورد مسلحانه میان نیروهای افغان و بین المللی را به طور جدا گانه مورد بررسی قرار دهند تا عوامل این گونه رویداد ها روشن گردد.
آیساف در حالی تصمیم برای تحقیقات این رویداد را گرفته که به روزجمعه گذشته یک سرباز اردوی ملی در ولسوالی تگاب ولایت کاپیسا همکاران فرانسوی خود را مورد تیر اندازی قرارداد که در نتیجه آن چهار تن آنها کشته و ۱۶ تن دیگر شان زخم برداشتند.
جنرال کارستن جاکوبسن سخنگوی آیساف به روز سه شنبه در کابل به

بقیه در صفحه ۴

افغان ځواکونو ته د مسولیتونو انتقال او د توانمندۍ په اړه یې اندېښنې

کابل، رسنۍ:
د ژمي په روان موسم کې د افغانستان هسک غرونه او پیچلې درې په واورو پټې شوې، د افغانستان په ختیځو برخو کې امریکایي عسکر د ژمي له سړې هوا څخه گټه اخلي او د سپرلي په موسم کې له وسله والو سره تازه جگړو ته تیاری نیسي.
د پاکستان پولې ته نږدې د پکتیکا ولایت په غرنۍ پوستې زیروک کې د سختې سړې

پاتې ۴ مخ

بهرني سیریالونه د فحشا او بې لارۍ پیغام خپروي

عبدالله کامه وال

دریم مخ

د اداري فساد پرضد مبارزه کې د چارواکو همکاري شرط ده

کابل، رسنۍ:
سره له دې چې افغان حکومت تل ټینگار کوي چې د اداري فساد پر ضد ټینگه مبارزه کوي خو د اداري فساد پرضد د مبارزې اداره داسې مواردو ته گوته نیسي چې د اداري فساد پر ضد مبارزه کې ډېر اغېزمن دي.
د اداري فساد پر ضد د مبارزې د ادارې رییس ډاکټر عزیزالله لودین وایي، چې د اداري فساد پر ضد باید ټولې دولتي اداري

پاتې ۴ مخ

نظام سیاسی قابل تغییر است از مجاری قانونی آن در کابل، نه در برلین!

دوکتور محمد انور

نظام سیاسی در هر کشوری با اتفاق مردم با توجه به مصالح ساکنان آن سرزمین مشخص می گردد که باید متضمن دوام و بقای ثبات و وحدت ملی و بهترین روابط میان اقوام، اقشار و عامه مردم چه فردی و چه کتلوی و اطمینان همه جانبه بر تأمین عدالت به مفهوم کامل آن عاری از هر نوع تبعیض و امتیاز بر مبنای، سمت، قوم، نژاد، لسان، مذهب باشد، آنجا که مردمانش با احترام متقابل به حقوق و آزادیهای همدیگر در فضای اعتماد به بقای سالم همان محدوده جغرافیائی، اسم، عنوان، ممیزات، مشترکات تاریخی خویش عشق می ورزند، لازم می افتد که نظام سیاسی با تائید و رضائیت و قناعت خاطر تمثیل کنندگان حقیقی آن ملت درج مقدرات آنها گردد. با توجه به آنکه اکثریت ها خارهائی مزاحم در چشم اقلیت ها باقی نگذارید که آنها را پامال کند و طمع همسایگان هم کیش و زبان و تبار در آنها پیدا شود که هر زمانی خواسته باشند محرومیت ها را برخ آنها کشیده و آتش فتنه را اثاره کنند و فتنه جویان جهانی آنرا از دور دامن زند از همین جاست که در تدوین قانون اساسی در یک کشور که حیات حال و آینده سکان آنرا تنظیم مینماید لازم می افتد رضایت نسبی یا کامل احزاب و جناح های مختلف از موافق تا مخالف حتی اگر در گوشه زندان هم بسر برد حاصل گردد و آن وثیقه هرگز ملی نخواهد بود که صحه گذارندگان بران تمثیل شفاف از همه سکان اعم از جوانب سیاسی، اجتماعی، دینی، مذهبی، حرفوی و مهنی و ... نتواند.
و در آغاز قرن بیست و یکم میلادی تحمیل یکطرفه خواست اکثریت ها بر همه خواست های اقلیت های ساکن در یک کشور دور از سلامت حیات مدنی باید تلقی گردد.

(بقیه در صفحه دوم)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

افغانان هم د یو مستحکم نظام او خوشال ژوند خاوندان کېدلې شي

موږ پخپلو غږېدلیو سترګو وینو چې ګرده نړۍ د خپل ولس او خاورې په ګټه کار کوي، له هر هغه کار څخه په کلکه ډډه کوي چې ولس او خاورې ته تاوان رسوي او دهغه کار د کولو لپاره لیوالتیا ښکاره کوي چې د هېواد او ولس په ګټه وي، څکه خو هره ورځ دهغوی په ژوند کې مثبت او ګټور بدلونونه تر سترګو کېږي، کړاوونه یې کمېږي او آسانتیاوې زیاتېږي.

داسې میاشت او کال نه تېرېږي چې نوي ایجادات ونه کړي او د ولس د خیر ښېګڼې لپاره وسایل او وسایط بازار ته ونه باسي.

لنډه دا چې د هېوادونو پرمختګ د خپلو اوسېدونکو زیار، لیاقت، مهارت، اتفاق او اخلاص سره تړاو لري، د یو هېواد اوسېدونکی چې څومره له خپل هېواد، ولس او قانون سره زیاته مینه لري همدومره په چټکتیا سره د پرمختګ پړاوونه وهي خپل ژوند هم ښه کوي او د نورو ژوند هم.

خو د افغانستان ولس چې نه یووالې لري او نه هم وروروليِ، نه د قانون احترام کوي او نه هم د خپلې عقیدې، تل په کړاوونو او مسایلو کې راګیر دي، نه په ګېډه ماړه دي او نه په تن پټ، نه د اوسېدو لپاره مناسب کورونه لري او نه هم د خوراک څښاک لپاره مناسبه غذا او اوبه، د ناروغۍ د درملنې لپاره دارو درمل، مجهز لابراتوارونه او حاذق ډاکتران خو په دوربین کې هم نه لیدل کېږي، د ژوند داسې یوه څانګه نشته چې افغانان په هغې کې بسیا او خودکفا وي بلکې په هر څه کې بل چاته یې د ګدایې کچکولونه نیولي دي.

افغانان هم د نورو هېوادو د ولسونو په څېر د ژوند په هر ډګر کې پرمختګ کولې شي خو په دې شرط چې خپل ځانونه وپیژني، له خپلمنځي جګړو نه لاس واخلي یو بل ته د وروری لاسونه ورکړي، علم او پوهې ته مخه کړي، زیار او محنت وباسي، ټول په ګډه د خپل هېواد او ولس د خدمت لپاره ملا وتړي.

امریکا او ناټو غړو هېوادونو چې له طالب ورونو سره په قطر کې خبرې اترې پیل کړي دي نه ښیي دا داسې رنګ خپل کړي چې په افغانستان کې یو نوې لوبه شروع شي یو ځل بیا افغانان په جنګ جګړو کې راښکیل، او په دې توګه له یو نوی بحران سره لاس او ګریوان شي.

د عقل او منطق غوښتنه داده چې په دې حساسو شیبو کې د افغانستان ټول سیاسي ګوندونه له بشپړ زیرکتیا او هوښیاري څخه کار واخلي، که هر څوک له هر چا سره خبرې کوي د افغانستان مجموعي ګټې دې له پامه نه غورځوي، داسې هېڅ ګام دې نه اوچتوي چې ترېنه د بې اتفاقی او قومي یووالې د ټوټې ټوټې کېدو بوی راځي، هېڅ یو تنظیم او هېڅ یو ملیت په یوازې ځان نه شي کولې چې په افغانستان کې خپل واکداري او واکمني پرمخ بوځي، د څو لسیزو تجربو موږ ته دا ثابته کړی چې په افغانستان کې پر نورو متکي انحصاري حکومتونه بقا نه لري او نه هم ددې امکان شته چې راتلونکی لپاره دې څوک د پردیو پر مټ انحصاري واکمني وچلوي، نه ښایي مخکیني تېروتنې بیا تکرارې شي او هېواد یو ځل بیا د جنګ جګړې په ډګر بدل شي.

د یو مستحکم خوشحال او پرمختللي افغانستان ارمان هله ترسره کېدلې شي چې د افغانستان ټول ګوندونه او ملیتونه د متقابله احترام پر بنسټ د یو بل ترڅنګ ودرېږي، د خپل اسلامي عقیدې او قانون ټینګه ملاتړ وکړي او پر نورو د تکیه پر ځای پخپل ولس تکیه وکړي.

که په صحیح معنی د افغانستان ټول سیاسي ګوندونه او ملیتونه د اتفاق او یووالې په ټغر راغونډ شي او پر پردیو د اتکا پر ځای د خپل ولس مستقیمو اراو ته رجوع وکړي نو له څه شک پرته ویلې شو چې افغانستان به هم په لږه موده کې ګرندې پرمختګ وکړي څکه چې افغانستان دهغو هېوادو په لست کې قرار لري چې قیمتي ذخایر لري او ددغو غني ذخائرو استخراج به ددې لامل وګرځي چې پخپله افغانان هم د خوشال ژوند خاوندان شي او نورو ته یې هم خیر ورسېږي.

نظام سیاسی قابل تغییر است از مجاری قانونی آن در کابل، نه در برلین!

(ادامهء از صفه اول)

در کشور بلاکشیده ما جنگ برای قدرت با کودتای ۲۶ سرطان ۱۳۵۲ از پرده ابهام بیرون گردید و قدرت عقده مند از محرومیت از شخص محمد داؤد و حاشیه و شریکانش که با شمشیر برهنه وارد میدان مبارزه شده اند تا جناح های سیاسی، نظامی موجوده کشور ما اگر کسی بخواهد شخص یا مجموعه ایرا با تکلف از آن مشتثنی بنماید نزد دیگران ادعای واهی ای بیش شمرده نمی شود. همه از تجربه تلخ جمهوری تک سالاری محمد داؤد و نظام ریاستی ایکه بوی محرومیت آن همه جوانب سیاسی، عقیدتی و مذهبی را با مخالفت با وی به شور آورد و سه دهه است آتش عکس العمل در برابر آن همه منطقه و جهان را فراگرفته کافی بود برای همیشه به فراموشی سپرده شود. و در فضای سیاسی آینده وطن ما بمنظور سهم گیری در نظام سیاسی و مبارزه سالم، جائز و مسالمت آمیز برای احراز قدرت و مشارکت در سلطه نظام پارلمانی تشکیل می گردید تا همه احزاب، شخصیت ها و جناح های مختلف سیاسی، اجتماعی، قومی در یک ترازوی عادلانه و شفاف، بدون سازش و خود فروختگی و دخالت دادن اجانب در آئینه تمام نمای پارلمان تمثیل گردیده و برای یکی دو دوره حکومت وحدت ملی تشکیل گردیده و تا پایان آبادی ویرانی ها و التیام زخم ها ادامه می یافت و با به پختگی رسیدن احزاب سیاسی و تبلور جناح بندی های قومی در آنها زمینه تشکیل حکومت حزب و جناح اکثریت فراهم و جناح مخالف سیاسی در پارلمان به مرحله ای از پختگی می رسید که حوصله مندانه و با وفاداری به وطن مألوف، اهداف والای ترقی و اعتلای آن مشاور امین در اهداف مشترک ملی و منتقد سالم بر اشتباهات جناح حاکم باشد و رئیس جمهور به نقش سمبول بودن وحدت ملی و اشراف علیا بر دوام سالم نظام و نگرانی بر هر سه قوا بسنده کند در رأس نظام باقی بماند. اما ذوات محترمی که در لویه جرگه ای بنام قانون اساسی به نظام ریاستی اتفاق نموده اند، با توجه به آشفتگی وضع کشور حضور نیروهای خارجی، موجودیت مخالفین مسلح نظام اعم از جناح های مختلف القاعده، طالبان و سایر مخالفین مسلح و مداخلات کشورهای منطقه در امور داخلی وطن ما فضا را برای نظام پارلمانی مناسب تشخیص نداده اند و چند دوری را به نظام ریاستی سالم زمینه ساز برای ایجاد فضای مناسب و غیر شکننده ترجیح داده اند با توجه بآن نه آقای کرزی و نه هم گروه روم و سایر تیم همراهان آقای کرزی و نه جامعه بین المللی به این فهم در خطا افتند که با همین فیصدی محدود شرکت نموده در انتخابات و برنده شدن شان بازی خاتمه یافته است. زیرا تاریخ چهار دهه اخیر بازی های سیاسی در افغانستان بدون ابهام همه ما را می فهماند که نه اختلافات و کشتارها میان تره کی، حفیظ الله امین، ببرک کارمل و نجیب و جناح های مختلف کمونیست ها جنگ های ایدیولوژیک بوده است و نه هم فتنه های اختلافات، حسادت ها در سرحد جنگ و کشتار و ویرانی در میان احزاب جهادی اعم از سنی و شیعه و نه هم احساسات افراطی موجوده تنظیم طالبان چنانکه ادعا می شود بر مبنای دین و عقیده استوار است، اگر بپذیریم که آغاز آن با احساسات پاک عقیده و اخلاص بوده باشد ادامه آن تنها و تنها سلیقوی و برای کسب، انحصار و یا شرکت در قدرت می باشد و بس. شاید تفاوت در این باشد که جناح هائی توزیع عادلانه سلطه، و از محرومیت حق جائز خود و از راه های مشروع برای رسیدن به آن در مبارزه اند و عده ای هم تا سرحد انحصار بخود ونفی کامل دیگران و اعمال ظلم و اپرتاید بزور سلاح تا سرحد مزدوری به اجانب و شماری هم ماهرانه و سیاستمدارانه با گل آلود نمودن فضای سیاسی و به خشونت وادار ساختن دیگران، استفاده ناروا به نفع خود و دارو دسته خود بنمایند، و دوام همان حالت را ضامن دوام و بقای امتیازات ناروای خود یافته و به آن اصرار نمایند.

به مردم ما باید حق داد و راه های سالم، قانونی و پذیرفته شده در قانون اساسی موجوده را باید فراهم نمود تا با شرکت آبرومندانه، صلح آمیز و بدون احساس محرومیت خود در ایجاد همچو یک جو سیاسی، اجتماعی شرکت بنمایند که ضامن رشد اجتماع ما، پیشرفت کشور ما و بقای سلامت وحدت ملی ما گردد و راه های مبارزه مسالمت آمیز و حوصله مندانه با آنها تمرین گردد، و در این راه صبر و حکمت بخرچ داده شود، تا آنها از تفاهم با هموطن خود خسته نه گردند و خود را در پشت دروازه های بسته نیابند.

تجربه سه دهه اخیر باید به این انجامیده باشد که هموطنان ما کنار آمدن با شرکای حیات عقیدتی، اجتماعی، سیاسی و فرهنگی دو صدو پنجاه ساله را سهل تر از در خدمت قرار گرفتن شرکای جدید با مشترکات محدود تشخیص دهند. اگر ذوات محترمی گمان کنند که میزبانان جهانی کنفرانس ۲۰۰۱ بُن و یا هم همتاهای شان می توانند طرح بهتری برای زندگانی مشترک ما بریزند در اشتباه اند زیرا آنها آگاهانه و یا در غفلت اگر بخواهند پارگی ایرا بخیه زنند مانند جراح ناآزموده جای سالم دیگری را خواهند درید با آنکه تاج های سلطنتی و نشستن بر اریکه قدرت با تأسف کمتر بدون تاج گذاری اجانب نصیب حکام این سرزمین شده است اما چشم انتظار داشتن به همچو چانس ها جز ادامه بحران، قتل و کشتار، نوکری دیگران و دوام سیاه روزی مردم مظلوم و محروم ما حاصل دیگری ندارد.

با توجه این حقایق تلخ در این مقطع وجیبه دینی و میهنی خود می دانم به ذوات محترمی که همواره در پی کسب قدرت و امتیازات فردی خود هستند و اگر چند روزی هم از اریکه قدرت و تشریفات و استقبال رجال برجسته و ممتاز گوشه شوند حتی اگر برادر و همسنگر نزدیک ترین شان مطرح ترین فرد در نظام باشد به آن بسنده نکرده برای برگشتن به کرسی و امتیاز جبهۀ از ناراضیان را جمع آوری، توسط آن نظام داخلی و جهان را مورد تهدید قرار می دهند مشوره دهم که سازندگان یک کشور پس از بیش از سه دهه سیر قهقرائی به کار مسولانه و تربیه حوصله مندانه نسل ها، تفاهم وسیع و صبورانه با آگاهان و خبرگان دلسوز و فداکار این وطن می توانند جای معیارات وارداتی اجانب را به مغایر برحق شایستگی وطن دوستی، آگاهی از دردهای مردم، تحصیل مفید و ممد در رفع آرام مردم و تعهد و دیانت عوض کرد و برای نهادینه ساختن آن کار کرد، بود و نبود کرسی و امتیاز فردی و مبارزه بخاطر آن و تشکیل جبهات و دارو دسته دردی را از آلام بی پایان این ملت کاسته نمی تواند.

در رابطه با تغییر نظام سیاسی در کشور که آقای رئیس جمهور به آن تماس گرفتند لحظاتی را بخاطر شان می آورم که بیانیه اختتامیه شانرا در مجلس دایر شده برای تصویب قانون اسسی موجوده ایراد مینمودند.

زمانی فضای نارضایتی قسمی را مشاهده مینمودند بخاطر تسلیت جوانب ناراضی و اطمینان به آنها فرمودند این قانون نصوص آسمانی نیست که تغییر ناپذیر باشد هر زمانی ملت ما ضرورت به تغییر در آن را احساس کند خواهند توانست در آن تغییر آورند، چگونه اکنون آنرا فراموش کرده اند و اظهار می فرمایند که وطن ما لابراتوار سیاسی بیگانگان نیست که در هر چند سال نظام سیاسی جدید مورد آزمایش قرار گیرد، اگر اوشان موافق باشند یا نه با احترام گذاشتن به قانون اساسی که خود در پای آن به رسم توشیح امضا کرده اند به مردم خود باید حق دهند از طریق همان مجرائی که قانون ترسیم نموده تغیر نظام سیاسی موجوده را در کابل مورد بحث قرار دهند ونه در برلین! و هرگاه جلالتمآب شان در اصطلاح نظام که فساد در آن، جهانی را به غوغا آورده قدمهای جدی نگذارند باید بپذیرند چنانکه تره کی، امین، ببرک و نجیب مسؤلیت ناکامی نظام به اصطلاح سوسیالستی؟ !، شهید استاد ربانی، انجنیر حکمتیار، استاد سیاف مسؤلیت مستقیم دلسردی مردم ما از نظام اسلامی جهاد و تحریک اسلامی طالبان مسؤلیت فرار هموطنان ما را از سایه نظام اسلامی دیوبندی به عهده دارند اوشان مسؤلیت خستگی مردم ما را از نظام ریاستی بدوش خواهند کشید.

نه ښيي د دولت او ملت ترمنځ واټن زيات شي

محمد خليل

په خانګړې ډول د دولت لوړ پوړي چارواکي او په ټوله کې د حکومت هر يو مامور که هره دنده اجرا کوي هغه اصلاً د خپل ملت خدمتګار دي، پر هغوی د بيت المال زياته بوديجه ځکه لګول کېږي چې په پراخ مټ د خپل ولس مسايل او اړتياوې حل و فصل کړي، په ټوله کې د ظلم، تېرى او ناروا مخه ونيسي، د کمزورو، دردمندو، مجبورو، مظلومو او ځوروېدلو وګړو فرياد واوري او دهغوی په ټپونو د مرهم پټۍ واګوي.

اصلاً د هېواد ولسمشر او نور حکومتي لوړ پوړي چارواکي هله د ولس د ملاتړ او تائيد څخه برخمن کېږي چې پر ملت د باداري پر ځاى خدمتګاران جوړ شي، په درنښت ورته وګوري، د قهر پر ځاى په ډېره مينه او محبت ورسره خبرې وکړي، پر مراجعينو رعب او دعب وانچوي، تندي ورته تروش نه کړي، له ځانه داسې بلا او باو جوړ نه کړي چې څوک يې په مخکې خبرې ونه کړې شي، د تکبر او لويى پر ځاى له تواضع او نرمي نه کار واخلي د قهرجنې لهجې پرځاى همدردانه او صميمانه لهجه خپله کړي او هر څوک په دليل او استدلال قانع کړي.

له بده مرغه زموږ په افغانستان کې هر څه سرچپه او اپوټه دي، له وزيرانو، واليانو او نورو لوړ پوړو چارواکو سره لېدنه کتنه دومره ګرانه ده چې يو عام ولسي وګړى په مياشتو مياشتو کې هم خپل غږ او عريضه ورته نشي رسولى، دومره باډي ګاردان او ساتونکي يې له خپل مقام نه تاو کړي وي چې ته به وايې دهغوی کتل او ورته نژدې کېدل قطعي حرام دي، لنډه دا چې د ولس خدمتګاران له ولس نه دومره په لېرې واټن کې پراته دي چې اصلاً هغوی د ولس له کړاوونو او مسايلو، نه خبرېږي، دهغوی خپل ژوند ښه جوړ دى، هم ورسره پيسې ډېرې دي او هم يې هستوګنه او آرګاه بارګاه.

خانان، ملکان، سرمايه داران او نور واسطه لروونکي خلک چې هر وخت وغواړي ورسره کتلې او لېدلې شي، احکام ترېنه اخستې شي او خپل هر ډول کار ورباندې جرا کولې شي، خو که پر کمزورو وګړو څومره چپه ژرنده وګرځول شي خبر دی، د اثر او رسوخ هر بد او ناروا روا کېدلې شي، دهغوی پر هره حبره د تصديق مهر ثبت او عمل ورباندې کېدلې شي مګر بېچاره او کمزورى وګړي دېته هم نه پرېښودل کېږي چې هغوی د خپل ځان سپيناوې وکړي، چې کله هم خبرو ته ژبه خوځوي نو پرمخ د څپېړو باران کېږي، بې ادب، ګستاخ او جاهل ورته ويل کېږي، زندان ته اچول کېږي او پر ګېډه يې غوبل کېږي.

آيا افغانستان غوندې په يو هېواد کې چې له څلورو خواوو نه د دښمنانو په ګيره کې وي او نه غواړي چې دلته امن او سوکالي وي له اولس سره داسې چال او چالند کول پخپله دېته لاره هوارول نه دي چې دغه رټل شوي او له نظره غورځول شوي ولس د دښمنانو په لومه کې ولوېږي، وسله ترلاسه کړي او د خپلو چارواکو په خلاف مورچلې ونيسي؟!

که لوړ پوړي چارواکي د افغانستان د مظلوم ولس په منځ کې د اوسېدو پر ځاى د لسګونو باډي ګاردانو په حصار کې په مجللو ماڼو کې د مسلحو ساتونکو او د مرمي ضد موټر نه پرته يو ګام هم نه اخلي، په ګېډه ماړه او په تن پټ دي په ژمي کې ګېزرې او د کوټو د تودولو لپاره برقي بخارۍ او په اوړې کې اير کنديشنې او يخچالونه ورته لګېدلي وي ددې نو دا مطلب نه دی چې عام ولس هم په مزو کې دي او هېڅ ډول مشکلات نه لري، په الله قسم داسې نه ده بېچاره ولس له يو عالم کړاوونو سره لاس او ګريوان دی. د خوراک لپاره ډوډۍ او اغوستو لپاره کالي نه لري، د ظلم دپاسه ظلم دا چې حکومتي چارواکي هم دهغوی د مشکلاتو د لرې کولو لپاره مثبت ګامونه نه اوچتوي له عدل او انصاف نه د عنقا مرغې جوړه شوې ده، هر لورې دفساد او رشوت سالارۍ خړه فضا حاکمه ده، د ولس خدمتګاران ايله د پيسو د غونډولو په مسابقه کې اخته دي، سرمايه يې تر اروپا، امريکا او دوبۍ پورې رسېدلې ده، دوی ورځ تر بلې سرمايه داران کېږي او غريب نور هم د غربت په کنده کې غورځېږي حالات تر دې رسېدلي چې د ولس او حکومت ترمنځ شديده کرکه پيدا شوې او مظلوم ولس چارواکو ته د دعا پر ځاى د خيرالاسونه لپه کوي، په داسې حال کې چې د هېواد د قوت اصلي سرچشمه ولس او د قانون حاکميت دی، يوازې هغه هېواد خپل سالميت او استحکام ساتلې شي چې ولس پخپل هېواد کې دا جنبيت احساس ونه کړي، قانون په صحيح معنی پر ټولو يو شانتې تطبيق شي او هر چاته د عزت او احترام په فضا کې د ژوند تېرولو حق ترلاسه شي.

ډېر افسوس چې دلته د چارواکو مطلق اکثريت د ولس په خوشاله ساتلو کې پاتې راغلي دي، خپل ايماني او ملي مسؤوليت يې نه دی پېژندلې، ددې پر ځاى چې د ولس خدمتګار، همدرد او زړه سواندې شي د باداري ناز او نخرې ورباندې کوي، د ظلم او تېرى ژرندی ورباندې ګرځوي، داسانې پر ځاى ستونزې ورته پيدا کوي د يوې ورځې کار يې په مياشتو مياشتو ځنډوي، غريبو، بې سوادو او بې واسطه وګړو سره د ځناورو په څېر سلوک کوي رټي او ځوروي يې. ځرګنده خبر ده چې کله د يو هېواد چارواکي د خپل ولس د خدمتګار پر ځاى باداران جوړ شي نو هغه هېواد د ژوند په ټولو ډګرونو کې وروسته پاتې کېږي امن يې کاواک او دفاع يې کمزورى کېږي.

افغانستان چې د خپل تاريخ په يو نازک پړاو کې قرار لري ددې خبرې کلک ضرورت محسوسېږي چې دلته چارواکي د خپل ولس د خدمت لپاره په صميم عزم ملا وتړي، تر څو د دولت او ملت ترمنځ د توپيرونو دا لوی واټن ختم او پرځاى د صميمت او همدردی فضا حاکمه شي.

بهرني سيريالونه د فحشا او بې لارۍ پيغام خپروي

عبدالله کامه وال

بهرني سريالونه، چې تر ډېره په کې هندي سريالونه راځي، هغه لويه او راښکونکې سرګرمي ده، چې نژدې د افغانستان ټول ولس پرې معتاد شوی دی. دا ډول سريالونه افغانستان ته د بهرنيانو له راتګ سره سم راغلل او د لسګونو ټلويزيوني چېلنونو په رامنځ ته کېدو سره يې دومره پراختيا وکړه، چې د هېواد ګوټ ګوټ ته يې لار وموندله. که څه هم د ښاغلي کرزي د واکمنۍ په لومړيو کې يوازې دوه درې ټلويزيوني چېلنونه موجود وو، خو اوسمهال يې شمېر لسګونو ته رسېدلی او داسې چېنل به نه وي، چې په هغه کې دې يوه دوه او يا زيات بهرني او په ځانګړې توګه هندي سريالونه نه خپرېږي. دا چې دا ډول سريالونه په ښکاره توګه زموږ له اسلامي، او افغاني کولتور سره مغايرت لري، زموږ پر ولس او ټولنه به څومره ناوړه اغېزې ولري او لري، دا هغه څه دي، چې زموږ په ګڼون يې د ډېرى خلکو او کورنيو اندېښنې راپارولې دي. دا ډول سريالونه تر ډېره نيمه لوڅ او يوازې د فحشا او بې لارۍ تر پيغام ور کولو پرته بل څه نه لري. په ډېرى کورنيو کې چې د سړي مور و پلار، خور، لور او نور سره يو ځاى کښېني، نو د داسې فاحشو او ناوړه سريالونو په ليدو سړی زښت زيات شرمېږي او حتا په ډېرى کورونو کې کورنۍ شخړې او ستونزې هم زيږولې دي. دا سريالونه چې پر درې او پښتو ژبو دوبله کېږي د علماوو شورا منع اعلان کړي وو، خو لايې هم خپرول ښه په نره دوام لري. د علماو شورا څلور کاله مخکې څو هندي سريالونه له اسلامي موازينو خلاف په ګوته کړل او د هغوی د نه خپرولو غوښتنه يې وکړه، خو د تلويزيونونو مالکانو دې غوښتنې ته پاملرنه ونه کړه.

د زموږ يو شمير هيوادوال وايي، پرته له دې چې دغه سريالونه راتلونکی نسل بې لارې کوي، هغوی د خپل هېواد له کولتور څخه هم لرې ساتي.

هغه بله ورځ راته يوملګري ويل: "څه وکړو په هر تلويزيون کې هندي سريالونه شته، که يې د شپې له خوا مخالفت وکړو، نو د ورځې له خوا يې بيا ځلې خپروي، هېڅ چاره نه لرو."

د هندي سريالونو خپرول، چې د کابل ښار په کورنيو کې ګڼ مينه وال لري، پرته لـه دې چې د ماشومانو په عقايدو يې اغېز کړى د هغوی پر حرکاتو او کړنو يې هم اغېز ښندلی دی.

په کابل ښار کې يوتن اوسېدونکې ملګري راتـه وه ويل د دغو سريالونو په ليدلو سره خپل ماشومان د دغو سريالونو د کرکټرونو په چوکاټ کې ويني او د هغوی حرکات او عادتونه تقليدوي.

دا زياتوي، چې يوه ورځ خپلې لس کلنې لور ته په غوسه شوه او لور يې د سريالونو په شان خپلې جامې ټولې کړې او ويې ويل، چې کور پرېږدي او نور بېرته دغه کور ته نه راځي. هغې وويل: "لور مې پر ما غږ وکړ او ويې ويل، چې زه لاړم او دغه کور د تل لپاره پرېږدم."

يو شمېر ميندې وايي، چې ماشومان يې د ډېرو سريالونو په وجه د ښوونځيو له درسونو واټن نيولی او د سريالونو په ليدو بوخت دي. د څلورم مکروريانو اوسېدونکې قدريې عزيزي وويـل، لور يې چې دمګړۍ د الفتحې لېسې د اووم ټولګي زده کوونکې ده، کال په کال ټمبلېږي.

هغه زياتوي: "فکر يې سريالونو تـه دی، تـل د سريالونو د کرکټرونو په اړه خبرې کوي او په خپلو وينا او کړنو کې هم د هغوی پيښې کوي. "د ښوونځيو يو شمېر زده کوونکي هم وايي، چې د سريالونو د ليدو له کبله د زده کوونکو مينه له خپلو درسونو سره کمه شوې ده. د کابل ښار د ناهيد شهيد د لېسې ښوونکې فتانه رحمانـي وايي، چې زده کوونکي اوس په ټولګيو کې د درسونو او کورنيو وظيفو په عوض د سريالونو په اړه خپلې کيسې کوي. رحماني زياتوي: "يو شمېر زده کوونکي، چې کله له خپلو ښوونکو سره خبرې کوي، خپل ځان د سريالونو د نجونو په څېر ښيي او هماغه ډول کړنې او پېښې کوي."

خو د ادبي او فرهنګي چارو کارپوه اسدالله غضنفر د اطلاعاتو او کولتور د وزارت دداډول سيريالونو په مخنيوی کې ګرم بولي اووای "څه به وشي، چې د اطلاعاتو او کولتور وزارت د عذر او زاريو په عوض، د خپل صلاحيت او مسووليت په حدودو کې جدي عمل وکړي." هغه وويل، چې په هيڅ هېواد کې تلويزيوني شبکې دې ته حاضرې نه دي، چې د افغانستان د تلويزيوني چاينلونو په څېر د پرديو خلکو کولتور د سريالونو او سندرو له لارې دود کړي.

هغه له سريالونو څخه د خلکو سرټکونه په ځاى بولي او وايي، چې دغه سريالونه په هېواد کې دپرديو د کولتور د رواجولو لپاره لا ښه زمينه برابروي.

غضنفر زياتوي، چې د دغو فلمونو او سريالونو اغېزې په ډېرې اسانۍ سره په بازارونو، د ودونو په مراسمو، مېلمستياوو او... په ډېره ښه توګه ليدل کېږي.

که څه هم د رسنيو د قانون د ۴۵مې مادې د ۶مې فقرې پر اساس د پرديو اديانو تبليغ او ترويج منع دی، خو په هندي سريالونو کې دا لړۍ روانه ده. خو د اطلاعاتو او کولتور وزارت يې په اړه، هيڅ ډول اقدام نه دی کړى په داسې حال کې چې دغه وزارت د اجرائيه قوې يوه برخه ده د علماو د عالي شورا مشر مولوي قيام الدين کشاف نه يوازې دا چې د هندي سريالونو خپرول د پرديو فرهنګي بريد بولي، بلکې هغه د هندوييزم يو ډول دودول بولي.

مولوي کشاف وويل، چې د افغانستان د علماوو شورا څو ځلې د سريالونو د نه خپرولو په اړه خپل وړانديزونه او دلايل ولسمشر او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته وړاندې کړي دي.

هغه زياته کړه: "موږ اجرائيوي قوت او قدرت نه لرو، يوازې کولاى شو، چې د نه خپرولو وړانديز او دلايل د مکتوب له لارې ولېږو او دغه کار مې کړى هم دی، خو له بده مرغه د اطلاعاتو او کولتور وزارت يې نه پلی کوي."

د افغانستان د اروپوهانو د ټولنې رييس او د کابل پوهنتون د اروپوهنې او تربيتي علومو د پوهنځي استاد سيد احمدشاه شريفي وايي: "د دودونو، پوشاک او فېشن، مذهبي دودونو او مراسمو د سريالونو د کرکټرونو په ليدو زموږ ماشومان او ځوانان له خپل واقعي ژوند څخه فاصله نيسي او خپل ځان د هغوی په چوکاټ کې ويني."

که څه هم له ۱۳۸۴ کاله راپه دې خوا د رسنيزو سرغړونو د څېړنو کمېسيون فعاليت کوي، خو تر اوسه يې په دې اړه يو کوچنی اقدام هم نه دی کړی. د دا ډول سريالونو د بندلو او نه خپرولو په هکله د اطلاعاتو او کولتور پخواني وزير ښاغلي عبدالکريم خُرم هم ډېرې هڅې وکړې، خو پر بندولو يې زور ونه رسېد. که چېرې موږ دا ډول سريالونه له هره اړخه مطالعه کړو، تر ګټې يې زيان زيات راوځي او هغه د چا خبره تر نشه يې توکو يې هم تاوان زيات دی. د بېلګې په توګه لګه پورته يې چې يادونه وشوه، د ښوونې او روزنې پر بهير يې ناوړه اغېزه کړی، پر کولتور يې اغېز خطرناک دی، پر ټولنه او وګړو يې هم اغېز د اندېښنې وړ دی، که له هره اړخه ورته ګورې نو سراسر تاوان او مخرب تمامېږي او تر ډېره بريده د ولس عام وګړي ترې پوزې ته رسېدلي او يوازې کم شمېر کورنۍ به وي، چې دا ډول سريالونه خوښ کړي، نور ټول ولس ورسره مخالفت لري او د بندولو هيله يې کوي. په دې توګه نو اړينه داده، چې دولت ژرترژره د دغو سريالونو بندولو ته اقدام وکړي او هغه چېنلونه چې نه يې بندوي او له قانون نه سرغړونه وکړي، بايد سخته سزا ورته واوروي.

رهبری عملیهء صلح را در ...

طور رسمی طالبان اعلان نکرده اند که از جنګ دست کشیده، قانون اساسی افغانستان را می پذیرند.

اخیراً جان الن قوماندان عمومی نیرو های امریکایی و ناتو درافغانستان گفته است، ملا محمد عمر رهبر طالبان کنترول کامل بالای جنګجویانش نداشته، شورشیان مسلح کشتار افراد بی ګناه ملکی را متوقف نساخته اند.

مقامات امریکایی و ناتو نقش پاکستان را در مذاکرات و تحکیم صلح در افغانستان مهم ارزیابی کرده اند. اما اسلام آباد از سهم ګیری در این پروسه شانه خالی می کند و با بهانه ګیری از کشته شدن ۲۴ سرباز پاکستانی در منطقهء مهمند ایجنسی در اثر یک حملهء هوایی ناتو، به همکاری در پروسهء صلح در افغانستان علاقمندی نشان نمی دهد.

در هفتهء ګذشته؛ پاکستان از مسافرت مارک ګروسمن نمایندهء خاص امریکا برای افغانستان و پاکستان به آن کشور ممانعت کرد. در عوض مارک ګروسمن به هندوستان مسافرت کرد.

مارک ګروسمن نمایندهء خاص امریکا برای افغانستان و پاکستان بعد از سفر به دوحه مرکز قطر مسافرت کرده است. ویکتوریا نولاند سخنګوی وزارت خارجهء امریکا در مورد مسافرت مارک ګروسمن به قطر می ګوید:

"افغانستان و ایالات متحدهء امریکا هردو می خواهند تلاش ها صلح به پیش برود. کار های زیاد در برابر ما قرار دارد. اینک مارک ګروسمن در دوحه بوده در مورد ګشایش دفتر طالبان ګفتګو می کند.ما واضح ساخته ایم که افغان ها و قطری ها باید به طور مستقیم با هم ګفتګو کنند."

طالبان در مذاکرات با امریکایی ها نخست خواستار رهایی زندانیان شان شده بودند. حکومت افغانستان تلاش دارد، کنترول همهء زندانیان سیاسی را در اختیار داشته، در مذاکرات صلح نیز موقف قوی داشته باشد.

عبدالستار خواصي د ولسي جرګې ...

پلاوي د ټاکلو له انتخاباتو وروسته وویل، چې د ولسي جرګې د دوهم مرستیال د ټاکلو لپاره به د چهارشنبې په ورځ انتخابات وشي:

"له بده مرغه د ولسي جرګې د دوهم مرستیال د چوکی لپاره کاندیدان ونه توانېدل، چې ۵۰+۱ رایه واخلي، په دې اساس که تاسو وکیل صاحبان موافق یاست سبا به د دویم مرستیال د ټاکلو لپاره انتخابات وکړو."

د ولسي جرګې د منشي څوکۍ ته عبدالستار خواصي او زهیر سعادت ولاړ وه، چې په دریم ځل انتخاباتو کې ۲۰۴ کسان حاضر وه او ۵۰+۱ رایي ۱۰۳ کېدلې، چې ښاغلي خواصي د ۱۰۸ رایو په ګټلو سره دغه څوکۍ وګټله او سیال یې یوازې ۵۴ رایي خپلې کړې.

همدارنګه د منشي د مرستیالۍ لپاره فرهاد عظمي او قیس حسن ولاړ وه، چې په دوهم ځل انتخاباتو کې یې ۲۱۷ کسان حاضر وه او ۵۰+۱ رایي یې ۱۰۹ رایي کېدلې، چې ښاغلي عظمي د ۱۱۴ رایو په ګټلو سره دغه څوکۍ خپله کړه.

د ولسي جرګې رئیس عبدالروف ابراهیمي د یادو دوو کسانو د انتخاباتو پایلې داسې اعلان کړې:

"محترم عبدالستار خواصي د ۱۰۸ رایو په ګټلو سره د منشي په توګه انتخاب شو او محترم فرهاد عظیمي د ۱۱۴ رایو په ګټلو سره د منشي مرستیالي وګټله دواړو ته مبارکي وایم.

له ښاغلي خواصي صاحب څخه غواړم، چې د ولسي جرګې د منشي په توګه له همدې شېبې خپله دنده پیل کړي، او همدارنګه له ښاغلي عظیمي صاحب څخه دواړه به خپلو دفترونو ته ور وپېژنو."

د افغانستان د ملي شورا د ۱۶ دورې دوهم کاري کال د شنبې په ورځ پیل شو، چې د اداري پلاوي لپاره یې انتخابات د دوشنبې په ورځ پیل شوه.

د قانون له مخې د ولسي جرګې رئیس د پنځو کلونو لپاره او د اداري پلاوي پاته غړي د یوه کال لپاره د ازادو انتخاباتو له لارې انتخابیږي.

د ولسي جرګې غړي وایي، چې د اداري پلاوي له انتخاباتو وروسته به د ۱۳۹۱ لمریز کال پر بودیجه بحث وکړي او د کابینې پاته غړو ته به د باور رایه ورکول د دوی د کارونو لومړیتوب وي.

ولسمشر کرزي د ملي شورا د دوهم کاري کال د پرانیستلو په غونډه کې ژمنه وکړه چې د کابینې پاته وزیران به ژر ور وپېژني.

جاپان برای بلند بردن ظرفیت ...

اوکادا شارژدافیر سفارت جاپان در کابل ګفت که کمک های کشورش در بخش حاکمیت قانون به سایر ولایت های افغانستان نیز ادامه خواهد داشت. چرا به ولایت های بامیان، هرات و بلخ در این زمینه اولویت داده شده است؟ آقای اوکادا ګفت:

"اینکه سه ولایت چرا در بخش نخست انتخاب شدند دو علت وجود دارد. اول اینکه می خواهیم کمک های خود را با روند انتقال مسوولیت های امنیتی به نیروهای افغان هماهنګ سازیم. دیګر این که روند انتقال از همین سه ولایت آغاز شده است. امیدوار هستیم، مردم این سه ولایت همزمان با روند انتقال از کمک های ما نیز مستفید ګردند."

در این حال خانم اشتامیتل معاون اداره مبارزه با مواد مخدر و جرایم سازمان ملل متحد ګفت که تقویت ادارات عدلی و قضایی در این سه ولایت می تواند سبب جلوګیری از جرایم و حاکمیت قانون در این ولایت ها ګردد.

از سوی دیګر سید یوسف حلیم معیین وزارت عدلیه افغانستان با ابراز قدردانی از این کمک جاپان به بخش های عدلی و قضایی این کشور ګفت که سطح جرایم در این سه ولایت نسبت به سایر ولایت ها کمتر است.

اما به ګفته آقای حلیم نیازمندی ها جهت بلند بردن ظرفیت های ادارات عدلی و قضایی این ولایت ها وجود دارد:

"نیازمندي ها در هر سه ولایت بخاطر تاسیس زیربناها، آموزش های مسلکی برای کارمندان عدلی و قضایی حتی در سطح ولسوالی ها وجود دارد. امیدوار هستیم که مردم این ولایات بتوانند از این خدمات بصورت درست استفاده کنند."

با وجودیکه در چند سال اخیر کشورها و موسسات کمک کننده برای ایجاد یک سیستم موثر عدلی و قضایی در افغانستان میلیون ها دالر کمک کرده اند، اما هنوزهم انتقاد های صورت می ګیرد که مشکلات زیادی در ادارات عدلی و قضایی این کشور وجود دارند.

موجودیت فساد اداری در محاکم و عدم بررسی به موقع و درست دوسیه های مجرمان از عمده ترین این انتقاد ها به شمار می روند. اما حکومت افغانستان همواره تاکید کرده است که برای رفع این مشکلات تلاش های پیګیر ادامه دارند.

د اداري فساد پرضد مبارزه ...

او لوړ پوړي افغان چارواکي په رښتینې توګه مبارزه وکړي.

ده وویل، که چیرې داسې نښې نو ګمان نه کوي چې په افغانستان کې اداري فساد له منځه ولاړ شي:

"موږ نشو کولای چې یوازې د اداري فساد او رشوت پر ضد د مبارزې اداري له خوا فساد ورک کړو دلته د ټولو دولتي ارګانونو همکاری ته اړتیا شته له ښاغلي ولسمشر نه نیولې بیا د کابینې تر وزیرانو، والیانو، امنیتي قومندانانو، قضایه قوې او څارنوالۍ پورې.

موږ که چیرې په ریښتا لاسونه ورنه کړو او رښتیا مبارزه ونه کړو هیڅ وخت نشو کولای چې اداري فساد په هېواد کې له منځه یوسو."

ښاغلی لودین چې د سې شنبې په ورځ یې د کورنیو چارو وزارت د چارواکو او جنرالانو د شتمنیو د ثبت په مراسمو کې خبرې کولې وویل، چې له اقتصادي پلوه د دولتي کارکوونکو د ژوند ښه کول هم د بډې او اداري فساد پرضد د مبارزې په برخه کې خورا اغیزمن دی.

د اداري فساد پرضد د مبارزې اداري رییس څرګنده کړه، چې د بډې او اداري فساد په هکله دوې دوسیې جوړې او څارنوالۍ ته یې لیږلې چې باید هلته ورته په لازم ډول رسیدګي وشي:

"له کله چې دا اداره جوړه شوې او زه دوه نیم کاله د دې اداري مشر ووم، د یوسل او دوه دیرش میلیونه ډالرو په ارزښت د دولتي ځمکو او جایدادونو د غصب، بډې او داسې نورو دوسیې برابرې او څارنوالۍ ته مو لیږلې وې.

وروسته د لویې څارنوالۍ د محترمې اداري دنده ده، چې ورته رسیدګي وکړي، څېړنه وکړي او صورت دعوا ورته جوړه او محکمې ته یې ولیږي او هلته په اړه یې پریکړه وشي."

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

له طالبانو سره د خبرو په اړه اوږده لاره په مخکې ده

نیویارک ټایمز ورځپاڼې په افغانستان کې د سولې د هڅو په اړه یومطلب د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا د متحدو ایالاتونو د خاص استازي په هغې خبرې پیل کړی چې وایي، له طالبانو سره د خبرو په اړه اوږده لاره په مخکې ده.

مارک ګروسمن قطر ته له تګ مخکې په کابل کې هغه راپورونه رد کړل چې ویلي یې دي، نوموړی به روانه اونۍ په قطر کې چیرې چې د طالبانو دفتر پرانیستل کیږي، له طالبانو سره خبرې پیل کړي.

نیویارک ټایمز لیکي، ګروسمن وویل، قطر دې ته اړتیا لري چې د طالبانو د دفتر د پرانیستلو په اړه له افغان حکومت سره خبرې وکړي او متحده ایالاتونو ته هم پکار ده چې له پاکستان سره چې تیره اونۍ یې د هغه د ورتګ مخه ونیوله، خبرې وکړي.

د ګروسمن په وینا طالبان باید دا په ډاګه کړي چې ایا دوی واقعا غواړي چې د سولې په خبرو کې برخه واخلي.

هغه وویل، د سولې پروسه یوه هر اړخیزه او پیچلې پروسه ده او یواځې افغانان کولای شي چې د خپلې راتلونکې په اړه پریکړه وکړي.

ټایمز:

د بریتانیا چاپ ټایمز ورځپاڼې د سولې د خبرو په اړه یوه لیکنه تردې سرلیک لاندې چې امریکا کرزي ته ویلي چې د طالبانو د دفتر له پرانیستلو سره موافقه وکړي که نه دوي به له دې هېواده د خپلو عسکرو ایستل ګړندي کړي، خپره کړې او له یو لړ څرګندونو وروسته لیکي، طالبانو د رواني میاشتې په پیل کې اعلان وکړ، چې دوي د جرمنې په منځګړیتوب له امریکا سره تردیارلس میاشتنیو ګډورو خبرو اترو وروسته په اصولو کې په قطر کې د ځان لپاره د فتر له پرانیستلو سره موافقه کړې ده.

خو دغه اعلان چې په افغانستان کې د لس کلنې جګړې د پای ته رسیدو د هڅو لپاره یو لوی پرمختګ بلل شوې، سمدستي د افغان ولسمشر له مخالف سره مخامخ شو.

خو د ټایمز په وینا ولسمشر کرزي د افغانستان لپاره د امریکا له خاص استازي مارک ګروسمن سره له تودو بحثونو وروسته چې کابل ته په دوه ورځني سفر کې یې ترسره کړې، قطر ته له ګوانتانامو زندان څخه د طالب بندیانو له استولو سره له خپل مخالفته لاس واخیست.

د ټایمز له دې لیکنې سره سم په افغانستان کې د امریکا دمتحدو ایالتونو سفیر رایان کروکر کرزي ته ویلي، چې که دی له دغې معاملې سره موافقه ونه کړي، متحده ایالات کولای شي ووایي چې په افغانستان کې یې خپل اهداف ترلاسه کړي او د روغې جوړې پروسه ده ته پریږدي.

ورځپاڼه له ګوانتانامو زندان څخه د طالب بندیانو د خوشې کیدو مسلې ته په اشاره لیکي چې له اوسني پلان سره سم امریکا ښایي د مارچ د میاشتې په وروستیو یا د اپریل په پیل کې دوه طالب مشران له ګوانتانامو څخه خوشې کړي او طالبان به هم په مقابل کې هغه امریکایي عسکر ازاد کړي چې له یوې مودې راهیسې له دوي سره بندي دی.

ډاکټر لودین خو ورځې وړاندې هم ویلي وو، چې د اداري فساد په تور یې د کابینې د یوه غړي دوسیه هم لویې څارنوالۍ ته لیږلې، خو د لویې څارنوالۍ چارواکو ازادی راډیو ته وویل، چې لا تر اوسه دا دوسیه دوي ته نه ده رسیدلې.

په عین حال کې خینو نړېوالو سازمانونو او موسسو افغان حکومت ته خبرداری ورکړی چې په دې هېواد کې د اداري فساد دوام له افغانستان سره د دوي پر مرستو منفي اغیزه کوي.

په افغانستان کې اداري فساد هغه ستونزه ده، چې له امله یې د نړېوالې ټولنې له خوا پر افغان حکومت جدي انتقادونه کیږي او ولسمشر کرزي هم په خپلو ډیرو ویناوو کې دې ستونزې ته په اشاره ویلي، چې هرو مرو به د دې شومې پدیدې جرړې راوباسي.

په ۲۰۱۱ کال کې ۲۲۶۲ ملکي ...

د کانګرېس راپور زیاته کړې، چې په دغه کال کې د افغانستان د ملي اردو ۲۸۹ سرتېري وژل شوي، په داسې حال کې، چې له هغه په مخکې کال کې ۸۲۱ د اردو سرتېري وژل شوي وو. دغه راز په ۲۰۱۱ کال کې ۵۲۲ پولیس وژل شوي او له دغه په مخکې کال کې دغه شمېره ۱۲۹۲ تنه وو.

باید وویل شي، چې په ۲۰۱۱ زېږدیز کال کې په افغانستان کې د مېشتو بهرنیو سرتېرو د مرګ ژوبلې کچه هم ټیټه شوې وه، په تېر میلادي کال کې ۵۶۶ بهرني سرتېري و وژل شول، په داسې حال کې چې په ۲۰۱۰ کال کې ۷۱۱ تنه وژل شوي وو.

په یاد راپور کې دغه راز راغلي، چې له ۲۰۰۱ زېږدیز کال راهیسې په افغانستان کې ۱۸۶۴ امریکایي سرتېري وژل شوي او ۱۵۲۶۲ نور ټپي شوي دي.

د امریکا کانګرېس په داسې حال کې د ملکي تلفاتو د کچې د ټیټدو خبر ورکوي، چې ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمېسیون د ۲۰۱۱ زېږدیز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي تلفاتو په کچه کې د ۱۵ سلنې زیاتوالي خبر ورکړی و.

ملګري ملتونو په یوه راپور کې ویلي و، چې د ۲۰۱۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې، په افغانستان کې ۱۴۶۲ تنه وژل شوي وو، چې د ۲۰۱۰ زېږدیز کال د لومړیو شپږو میاشتو له کچې څخه ۱۵ سلنه زیاته وه.

افغان ځواکونو ته د مسولیتونو ...

هوا له امله د وسله والو جګړې بندې شوې او یو ډول چپتیا په سیمې حاکمه شوې ده.

د امریکا متحده ایالات، د افغانستان سرحدي سیمه او له پاکستان سره غزیدلې اوږده پوله د نړۍ تر ټولو خطرناکه سیمه بولي او د خلکو پام ور اوښتی دی.

د ناټو په مشری ایتلافي ځواکونو افغان امنیتي ځواکونو ته د مسولیتونو د انتقال عملیه پیل کړې او د ۲۰۱۴ کال په پای کې به بشپړه شي، خو افغان او امریکایی چارواکي اندېښمن دي چې د دغې ۲۶۱۴ کېلومیتره اوږدې ګډې پولې امنیت به چې زیاته برخه یې غرنۍ ده، څنګه ساتي.

که د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ګډې پولې امنیت ونه نیول شي نو زیات شمېر وسله والو ممکن ورڅخه تېر شي او په افغانستان کې د سولې هلې ځلې له ستونزو سره مخامخ کړي.

افغان او امریکایي چارواکي وایي، د پکتیکا ولایت د زېروک امنیتي پوسته د وسله والو د تېریدو او د هغوي د حملو د مخنیوي په کار کې د دوي د جګړو د جبهو د لومړیو لیکو لړی ده.

په پکتیکا کې د امریکایي ځواکونو ویاند جګړن جوزیف بوکېنې وایي، د افغانستان ملي پوځ دا توان نه لري چې د دیرشو او شپیتو عسکرو ترمنځ قطعاتو ته لوژسټیک او لازم پلانونه برابر کړي.

په دې ولایت کې دا مهال شاوخوا ۳۴۰۰ امریکایي عسکر دېره دي، دا شمېر به د اوړي له موسم مخکې درې زرو ته راټیټ شي.

په زېرک کې دېره امریکایي پوځیان وایي، افغان ځواکونو د ځینو عملیاتو د پلانونو جوړول پیل کړي خو د پلیو او ځمکنیو قواو سمبالښت ورته لا هم ګران کار دی.

په زېروک کې یوامریکایي پوځي وایي، بله ستونزه داده چې له وسله والو سره سیمه ایز دخلک د مجبوریت پر اساس مرسته کوي او که دسیمې اوسیدونکې له وسله والو سره مرسته ونکړي هغوي ممکن غچ ورڅخه واخلي. خلک بله چاره نلري.

په تېر نومبر میاشت کې د پکتیکا ولایت د دریو سرحدي ولسوالیو امنیتي مسولیتونه افغان ځواکونو ته وسپارل شول او د ننګرهار ولایت د خلورو سیمو مسولیتونه هم باید افغانانو ته سپارل شوی واي. خو دننګرهار ولایتي چارواکي اندېښمن دي چې سرحدي ځواکونه یې د وسله والو د حملو په مقابل کې عصري وسلې او پوره تجهیزات نه لري.

آیساف تمام واقعات برخورد ...

خبرنګاران ګفت که در عقب هر کدام از این رویداد ها عوامل جداګانه وجود داشته اند.

به ګفته آقای جاکوبسن آنان نمی توانند تایید کنند که علت اساسی این ګونه واقعات نفوذ سیستماتیک طالبان در صفوف نیروهای افغان است:

"هیچ ګونه نشانه از نفوذ سیستماتیک مخالفان مسلح در صفوف نیروهای افغان وجود ندارد. در حقیقت این چیزی است که ما هر روز آنرا به طور جدی مورد بررسی قرار می دهیم. تا جایی که در ګذشته ما در مورد این ګونه رویداد ها تحقیقات را انجام داده ایم، عامل هر رویداد مختلف بوده است. تا اکنون بسیار وقت است که در این ګونه کشتار ها و به طور خاص رویداد اخیر در مورد دخیل بودن طالبان چیزی ګفته شود."

هرچند جنرال جاکوبسن روند جلب و جذب در صفوف نیروهای پولیس و اردوی ملی افغانستان را موثر خواند و ګفت که هم اکنون این روند هشت مرحله دارد اما به باور وی این روند هنوز هم به بهتر شدن نیاز دارد.

اینکه نتایج بررسی های آیساف چی خواهد بود تا اکنون روشن نیست اما وزارت دفاع افغانستان ګفته است که در عقب بیشتر این ګونه رویداد ها بیماری های روانی و خصومت های شخصی وجود داشته اند.

اما برخی از آګاهان امور امنیتی می ګویند، علت اساسی این ګونه رویداد ها نفوذ مخالفان مسلح در بین نیروهای افغان است.

جنرال عتیق الله امرخیل یکی از این آګاهان در صحبت با رادیو آزادی ګفت که مخالفان مسلح با این ګونه حملات می خواهند در روند ګفتګوهای صلح امتیازات را به دست بی آورند:

"دشمن کوشش می کند که در همین طور حالات از هر تکتیک کار بګیرد. امکان دارد که در بین قوت های نظامی افغانستان نفوذ کرده باشند و نفوذ هم می کنند و در این زمینه مشکلی وجود ندارد. و در ولایت های دیګر هم باید فکر شود که ممکن در بین سربازان نفوذ دشمن باشد. در حالی که ګفتګوهای صلح جریان دارد طالبان برای به دست آوردن امتیاز دست به چنین عملی می زنند."

پیش از این ریاست امنیتی ملی افغانستان نیز هشدار داده بود که مخالفان مسلح در صدد نفوذ در صفوف نیروهای امنیتی افغان اند. مقام های این اداره همچنان از وزارت های دفاع و داخله افغانستان نیز انتقاد کرده بودند که آنان را در این زمینه کمک نمی کنند.

حمله بر شفاخانه سردار محمد داود خان شهر کابل و تیراندازی سال ګذشته در میدان هوایی کابل میان نیروهای افغان و خارجی از مواردی اند که به ګفته شماری از آګاهان در لباس اردوی ملی صورت ګرفته است.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت ورځپاڼه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي ځانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۷۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

- د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
- د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
- رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سېلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com